
***لیکونکی*** : ویجای پرشاد(Vijay Prashid) .
***منبع اودخپریدو نیته*** : کونتر پنچ «۲۰۱۶-۲-۱» .
***ژباړونکی*** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».
---------------------------------------------------------------

# دچین لاره دمینځنی ختیځ په لور

*China's Road to the Middle East*

*دچین جمهور ریس شاغلی خی چین پنګ (Xi Jin ping) مینځنی ختیځ ته دهغه سیمی دسیا ست په ډګر کی داوچتو قد مونو په اخیستلوسره دخپل سفر په لاره کی دتعادل دبرقرارولو په نظرکی نیولو سره همغسی چی په تهران کی تم شوی وه په سعودی عرب کی هم تم شو .*



*خی چین پنګ دعرب په اتحا د یه کی یودرامتیک او بی جوړه وینا ترسره کړ اوهغه دلمړی ځل د پا ره په لسیزه کی په ډیر ښکاره اوتا یدی بڼی سره دخپل هیواد ملاتړ اوتعهد د فلسطین دخلکو ددا عیی سره اعلان کړ.*

*« هغه زیاته کړچی چین په مینځنی ختیځ کی دسولی د روند اوهم دفلسطینی دولت له تا سیس او ایجا د څخه چی دهغه پلازمینه په ختیځ اوریشلیم کی وی ملاتړ کوی» .*

خی چین پنګ په وینا کی دغه وروستنی جمله اوعبارت اسرایلیانو ته یوه خوزیدونکی اولرزه ونکی ګذار وه.
هغوی یعنی اسرایلیان کوم چی خاماخا اوهرومرو به دخین چین پنګ دغه وینا او یا دونه چی د فلسطین څخه دفاع اوداسرایل غوښتنی یی په بشپړ بڼی سره رد کړ اوریدلی وه اما هغوی دهر ډول سمد ستی خشونت له ښکاره کولو څخه ډډه وکړ .
داهغه څه وه چی «خی چین پنګ» یوڅه ترلاسه کړ اما نه ډیر زیات نور موضوعات.
دلته د هیڅ شک اود شبهی ځای نه ترسرګو کیږی چی دچین دجمهور ریس ښاغلی «خی چین پنګ» بیا نیه کی د مینځنی ختیځ دسیا ست په ډګر کی د چین دحکومت روښانه او ښکاره نوی دریځ نه وی په ګوته شوی ،دچین دولت د(۱۹۹۰) کال څخه راهیسی دخپل له هغه تجارتی اونه سیاسی دریځ څخه چی دخپل کار په اجندا کی نیولی وه بیزاره او پیښیمانه شوی وه نو د همدی دلیل په نظر کی نیولوسره «خی چین پنګ » خپل پریکړنی ونډه د مینځنی ختیځ په روانو سیاسی چارو کی دخپل په دغه سفر او وینا کی د نړیوالو غوږونو ته ورسول .
په ملګروملتونوکی د چین دایمی استاذی پخپل وروستی خبرو کی د مینځنی ختیځ دسولی دحل دلاری دمیند لو په اړه دځواړخیزو سوله یلود وندی داخیستو پر ضرورت با ندی ټینګار وکړ کوم چی د هغه خبری د سولی د راوستلو په ډګر کی د یوشمیر استا ذو له طرفه هغه وخت ومنل شو کله چی دامریکی متحده ایالات په پا یله کی د خپل بمب غورځونی سیا ست باندی ټینګار وکړ .
د یا دونی مهم خبره داچی دچین چوپتیا (سکوت )دعراق په وړاند ی د کال (۱۹۹۰) دتحریمونودوضع کیدواوبیا په کال(۲۰۰۳) کی دعراق پرضد جګړ ه کی ونشو کړی چی په عراق کی د شورشیا نو د شورش مخه ونیسی سره دهغه چی ځنی دیپلوما تا نوپه لمړی سرکی په یولړ تظاهرا تو باندی پیل و کړ اوبیا وروسته له تظاهراتو څخه مخ ترشا شول .
یا کله چی د لیبیا پرضد رای اچونه مخکی دملګروملتونو دامنیت شورا د کال (۲۰۱۱) قراراود تصویب ترسره کیدوکی چین اود بریک (BRICS) هیوادونه داسی پریکړه وکړ چی ددی قرار په وړاندی له رای ورکولو څخه ډډه وکړی

اما کله چی غرب مخکی له دی چی د ملګروملتونو دامنیت دشورا د(۱۹۷۳) ګڼی قرار ترلاسه کړی چین او روسیه داسی پریکړه وکړل چی په منطقه کی نګه او ټُرت دریځ غوره کړی .
نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره چین اوروسیه دکال (۲۰۱۱) څخه لاتراوسه دغرب دهر ډول هڅی اواند کوم چی غواړی دملګرو ملتونو دامنیت دشورا مجوز او قراردسوریی په وړاندی تر لاسه کړی شنډ کړی اولاتراوسه په پوری ایما نداری سره نه پریږدی چی غرب د ملګروملتونو دامنیت د شورا قرار دخپل شوم هد ف ته درسید و دپاره دسوریی پرضد تر لاسه کړی- چین اوروسیه دنړی دجنوبی دحوزی درژیمونو د تغیر ورکول اصلی او کلک ضد هیوادونه دی چی په هیڅ بڼی سره نه غواړی چی په نوموړی سیمه کی غربیا نو دولتی او حکومتی مستقلو رژیمونو ته تغیر اوبد لون ورکړی همدا چین او روسیه وه چی په لیبیا کی درژیم د تغیر ډیر کلک مخا لفین وه اوتر اخره پوری نه غوښتل چی په لیبیا کی رژیم ته تغیر ورکړ شی .
چین اوروسیه په ګډه سره د نړی د جنوبی سرتا سری حوزی هیوادونه د کال (۱۹۹۰) څخه راهیسی تر فشار لاندی نیولی چی هغوی با ید د خپل جیوپولیتیکی موقیعت دسا تنی د پا ره په تهاجمی بڼی سره خپل صفونه تنظیم کړی – اودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره چین او روسیه په ګډه سره په یولړنظامی تمرینونه لاس پوری کړ چی یو دهغه نظامی ګډ تمرینونو څخه په تیر دوبی کی دمد یترانی په بحرکی یو ګډ سمندری تمرین ترسره کړ .
بی ویلو دی پاتی نشی چی ددغه دنړی ددوه سترو قوتونو ګډ سمندری تمرین دنظامی دکترین له پلوه ډیر داهمیت وړ تمرین ګڼل کیږی.
په اوسنی وخت کی د چین تجاری اړیکی او بوختیا چین له هر ډول خود محوری او چورلخ څخه مخنیوی کوی یا په بل عبارت سره دچین تجاری راکړی ورکړی چین له هر ډول تاویدل اوخود محوری توب څخه سا تی نو دهمدی اصل په نظرکی نیولو سره د چین جمهور ریس ښاغلی خین چن پنګ مینځنی ختیځ ته په دغه خپل وروستی سفر کی دسعودی عرب اود مصر سره دخپل هیواد دښه حسن نیت داړیکو پر موضوع باندی ډډه ولګول .
لکه چی ټولو ته معلوم دی اوهغه دا چی سعودی عرب د چین یوله هغه د تیلود تامین کونکی هیوادونو د جملی څخه دی چی چین ته تیل صادروی نو

دهمدی واقیعت په نظر کی نیولو سره «خین چن پنګ» دسعودی عرب اودیمن سره درواني جګړی په اړه په یو ډیر خوشحا لونکی د بیلوماتیکی ژست سره تماس ونیول یعنی پرهغه موضوع باندی کوم چی چینا یی دیپلوما تا ن په ډیر چوپ اوچوپتیا سره خپل علاقه اونګرانی کله ناکله راڅرګندوی .
دچین دجمهور ریس په دی سفر کی دسعودی عرب دتیلو د کمپنی ارامکو (Aramco) او د چین د دولتی د تیلو د کمپنی سینوپیک(Sinopec) تر مینځ دستراتیژیکی ګډ مرستو یوه عمده موافقتنامه لاس لیک شو او دواړو خواو په دی سره جوړ راغی چی که د ارامکو ځنی څانګی مارکیت ته لاره خلاصه کړی هغه به د دواړو لاس لیک کونکو هیوادونو د زغم وړ وی اودا په دی معنی که چیری دارامکود تیلو د شرکت څیښتن د سهم لرونکودا سها مو ارزش ټیټ اویا لوړکړی دواړه خوا به هغه پریکړی منی .
دیا دونی بل مهم موضوع چی خی چن پنګ» مینځنی ختیځ ته پخپل سفر کی ترسره کړ هغه د مصر سره دهغه هیواد د انقلاب د پنځم کالییزی په درشل کی د چین د حسن نیت د مناسبا توبیا له سره نوی کول وه - اوبیا په رغنده بڼی سره دهغه تجارتی راکړی ورکړی اړیکی کوم چی د چین مال التجاره د سویز دکانال دلاری پواسطه سره اروپاته لیږدول کیږی .
اوس مهال دچین اړیکی دسعودی عرب اودمصر سره پر دغه لاندی ستنی ولاړ دی : یعنی په اقتصادی لحاظ سره دچین اقتصاد د سوند د موادو اود حمل ونقل په مسیر با ندی متکی دی کوم چی دغه اسا نتیا وی دهمدی دوه هیوادونو په مرستی سره ترسره کیږی اود بلی خوا څخه دچین دجمهور ریس خین چین پنګ د ید ار دایران څخه داسی ښیی چی دغه باور اواعتماد په کلی بڼی سره تلپا تی نه دی.
بل مهم مطلب داچی چین په تجارتی برخه کی دایران یو له ډیر مهم او ونډه اخیستونکی شریک اوپارتنرڅخه شمیرل کیږی اوبیاپه ځانګړی بڼی سره داسی کلک ونډی اخیستونکی شریک چی دایران سره خپل تجا رتی اړیکی حتی کله چی ایران د اقتصادی بندیزونو سره مخامخ وه جاری وسا تل کوم چی دهمدی اړیکی په اړه دواړه یعنی«خی چن پنګ» او«حسن روحانی» دایران جمهور ریس په ډاګه کړل چی زمونږ ددواړو هیوادونو ترمینځ دغه دملګرتیا مناسبات کوم چی د اقتصادی بند یزونو په مهال کی هم ثا بت پاتی شوی وه د تهران او

پیکن تر مینځ با رونه لا پسی تینګ او مسبوط کړی دی .
چین بلکل چمتو دی چی دایران اود چین ترمینځ دوه اړخیز منا سبا ت اود دوستانه اړیکی کچه لا پسی لوړ کړی – نو دهمدی اصل په پیروی سره دچین جمهوررییس خین چن پنګ په یو تلویزیونی برودکاست کی دایران په تلویزیون وویل چی ځما هیواد چمتو دی چی د ایران وړاند یز پرچین باندی دزیات تیلوخرڅلاو قبوله کړی اومونږ په دی اړه چمتو یا ستو چی په راتلونکو کلونو کی د نفت یا د تیلو درانیول اویا د پیرید لو حجم لا پسی لوړ کړو.
د یا دونی مهم ټکی دادی چی ددی نوی معاملی په ترڅ کی دچین وابستګی د سعودی عرب د تیلو په رانیول کی به لږ متکی وساتی.
**د تیرو لسیزو څخه را په دی خوا چین په فعاله بڼی سره د«نوی وریښمین دلاری » د جوړښت په لټه کی دی یعنی هغه لار کوم چی د چین له ساحلی کرښی څخه داروپا په لور د مرکزی آسیا او دایران له لاری اروپا ته غزول کیږی اوهمدارنګه داوسپنی د پټلی کرښی د جوړیدو موضوع هم دچین دکار په اجندا کی شامل دی یعنی هغه داوسپنی دپټلی کرښه چی دایران د ټولو سراسر شمال برخی څخه په تیرید و افغانستان او ترکی سره به ونښلوی .**
دبلی خواڅخه پروسږکال دچین داورګاډی دپټلی دمسولو مقاماتو اود بوداپست اود بلغا ری د ترانسپورت د مسلو مقا ما تو سره له هغه نه چی د نوی وریښمن دلاری داورګاډی دپټلی یوه برخه تیریږی یو پروتوکول لاس لیک کړ بی ویلو دی پا تی نشی چی د نوی اوریښمن داورګاډی پټلی د ختیځی اروپا د زړه له مینځ څخه تیریږی.
دچین وابستګی دهغه هیواد دمال التجاره دحمل ونقل دپاره سویز کانال پوری نظر دچین داوږدی ستراتیژیکی هد ف دپه نظرکی نیلو سره ډیر زیات اساسی نه شمیرل کیږی .
د یاده با ید ونه با سو چی د چین اودایران د اوسنی نوی اړیکی په مینځ راتلوسره د چین اتکا پرسعودی عرب با ندی د تیلو درانیولو او پر مصر باندی دسویز دکانال دلاری پواسطه سره دچینایی دما ل التجاره دحمل ونقل مسا له کمه کړی دی – یعنی چینا یان کولای شی چی خپل ټول ضروریات د ایران سره د نوی مناسبا تو په لرلو سره تامین کړی- چینایی دیپلوما تان په ځانګړی بڼی سره وایی چی د خلیج د حوزی هیوادونه کوم چی غربی سمت ګیری او

پلویز نظراو کرکتر لری د چین دپلا نونو اودپروګرامونو دخند ستر عامل ګڼل کیږی .
چینا یا نو د تجارت په معاملاتو کی داورین تندی حلک دی یعنی هغوی دراکړی ورکړی په کاروبار کی ډیر انعطاف پذیر دی نو دهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره له هغه نه چی مصر اوس اوس د سعودی عرب په مدار اوځا له کی ځای پر ځای شوی دی د چینا یا نو د تشویش زمینه رامینځته کړی دی او دبلی خوا څخه غربی هیوادونه دخلیج دحوزی پر هیوادونو باندی کله ناکله اقتصادی فشارونه اچوی نو دچین د پاره اضافی ځای نه پیدا کیږی چی پر هغه باندی زړه ګرمی راښکاره کړی .
له دی نه چی چین غواړی دخپل جنوبی سمندر په مسیر دمالاکا (Malacca) په تړانګه (تنګنا) لکه سنګاپور، ما یا نمارس (Myanmars) کیاوپیوا (Kyaukpya) او په پاکستا ن د ګوادر(Gwader ) بندرونه جوړوی غرب اودهغه متحد ین یي په ډار کی اچولی دي .
دغه بندرونه دختیځ سهیلی اسیا له تړانګو څخه را تاویږی اود نوی وریښمن لاره دسویز دکا نا ل څخه به تیر شی چی په دی صورت کی چین کولای شی چی خپل اړیکی په نوموړو ساحو کی دراکړی ورکړی په معاملاتو کی لاپسی نوی کړی .
ښاغلی خی چن پنګ دخپل موقف په درلودو سره په دی پوه شوی دی چی باید دنړی په روابطو اومسایلو کی دڅو اړخیزتوب (چند جانبه ګرایی) سیا ست غوره کړی دبلی خوا څخه د چین اود روسی ترمینځ د حسن نیت او د ملګرتیا منا سبا ت وروسته دکال(۲۰۱۴) څخه کله چی داوکراین بحران سرراوچت کړ ښه شو او هغه داچی چینی مقامات په دی با ند ی پوه شو چی داوکراین بحران دغرب یوله نه هیریدونکی دسا یسو څخه دی کوم چی غواړی روسیه کمزوره کړی .
خی چن پنګ دبرکس (BRICS) بلوک هیوادونو ته ژمنتیا (تعهد) وسپارل چی دهغه دهڅی اوداند دڅمری انعکا س به دمختلفو قطبونو رامینځته کول وی چی دغرب دهژمونیی سره دیو موازنی ځواک په بڼه مقابله وکړی ، اودهغه سفر عربی نړی ته دهمدی باور په رڼا کی ترسره شو یعنی د خین چن پنګ هلی ځلی دهغو تقویه کول اوملاتړ دی کوم چی هغوی اوس مهال د ضرورت

له مخې دراکړې ورکړې حق لرې اوبیا په ځانګړې بڼې سره چین خپل ملاتړ ، سعودی عرب – مصر اونورو ته وښود یعنې هغوی ته چې چین ته اجازه ورکړې چې دخپل سوند مواد له ایران څخه ترلاسه کړی یا داچې دایران دسوند موادو اودایران مارکیت ته په مسقلا نه بڼې سره بې دهغې چې هغوی د چین اودایران ترمینځ د راکړې ورکړې خنډ شې لاس رسی ولری .

خې چن پنګ پخپل بیانیه کې خپل اوریدونکې ته یاده کړ چې دچین ملاتړ دفلسطین له داعیې څخه په تاریخې لحاظ څه نوی خبره نه دی چې اوس واوریدل شې بلکه چین په تیرو مخکنې کلونو کې هغه غیر عربې هیواد دی چې خپل ملاتړ دفلسطین دآزادی بخښونکې غورځنګ(PLO) څخه اعلام کړی دی .

دلته دبیلګې په بڼه کولای شو چې د «چوین لای » د هغه سفر په اړه کوم چې دی سیمې ته کړی وه د هغه د ځنو مهم خبرو څخه یا دونه وکړو – هغه عربې هیوادونو ته ویلې وه چې مونږ چینا یا ن بکل چمتو یو چې د فلسطین بیا له سره دجوړولو اود مینځته رتللو په اړه د تا سو سره مرسته وکړو اوهر هغه وخت چې تاسې دی موضوع ته چمتوالی ولرې مونږ د ستا سو په خد مت کې یا ستو چې هرهغه شې اویا ټول هغه شیا نوته چې تا سې ورته ضرورت لری په شمو ل دسلاح او دواطلبا نو ته پس مونږ حاضر یو چې د تاسو په خد مت کې ستاسې خواستې ته عملې بڼي ورکړو .

یاداچې په تاریخې لحاظ سره کولای شو چې دیو بل تاریخې پیښې څخه چې دچین اودفلسطین په منا سبا توکې وجودلری ورځنې یادونه وکړو :اوهغه داچې په کال (۱۹۶۵) کې هغه وخت چې د فلسطین دآزادی بخښونکې غورځنک یو پلاوی د«احمد شکوری» په مشری پیکنګ ته په یوه دوساته سفرځی بیا په یوه لوی لاریون کې ګډون کوم چې ماوتسونګ داسرایل په ارتباط په دی لاریون کې په ډاګه کړ چې اسرایل اوتایوان (فارموسا) دامپریالیزم دفعالیتونو دسرته رسولو د پاره یو د پکا روړلو ا ساسې وسیله دی نو په هغه وخت کې دچین مشر« ماوتسونګ» په ډیرسرلوړی سره د فلسطین د همستګې د ورځې په درشل کې چې د مې د میاشت (۱۵) نیټې سره سر خوری ویلې وه چې مونږ کاملاً دی ته چمتو یو چې داسرایل دفترونه با ید په عربې هیوادونو کې وتړل

شی او مونږ چینا یا ن داسرایل بیرېږیو ته اجازه نه  ورکو چی د  چین   په اوبو اوسمندرونو کی ګشت وګذار وکړی . « ماوتسونګ» دخپل خبرو په  دوام کی زیاته کړ او د فلسطین  هییات  ته په خطاب کی وویل  تاسی دآسیا دلوی وچي په مخامخ دروازه کی اومونږ ددی وچی په شا تنی  دروازه  کی پروت یا ستو غرب اسرایل اوتایوان زمونږ دوچي (آسیا)  په مقابل کی  د توپ و هلو  ددږی (تخته حیز) په بڼه سره پکاروړی  هغه دخپل خبرو په  دوام کی  وویل دعربی هیوادونوجنګ دغرب سره جنګ ځما له نظره داسرایل پرضد جنګ بلل کیږی نودهمدی دلیل  په نظرکی نیولو سره  باید چی عربی هیوادونه د غرب سیاسیی نمایندګی له یوسره وتړی  ځکه  چی همدغه غربی  ځواک دی  چی د فلسطین دپاره ستونزی برابرکړی دی ((al Anwer   6 April 1965).

« خین چن پنګ» نه غواړی  چی  لکه  د  «ماوتسونګ»  په ځیر  لوڅ خبری وکړی  بلکه  هغه  په  ډیر  ورین  تندی اوملا یمه   سلوک  سره  غواړی   چی د  « دنګ شیاوپنګ» د دکترین  په رڼا کی چی د«ماوتسونګ» د جها نی نړی لید سره  یومرتبط نظر دی دتجا ری کړیو وحد ت را مینځ ته کړی چی دغرب د سیا ست سره  په ټکر کی اووسی.

اما چین په دی  ځو نژدی ورځو کی دفلسطین   په اړه  په  شمول د  دی  چی با ید شرقی بیت المقدس د فلسطینیا نو په پلا زمیه واړول  شی  لږ  شا نته چپ اوارام ښکا ری  اولکه هغسی چی په ځو تیرو لسیزو کی   خپل  نظر  په ډاګه ښکاره کول  اوس د فلسطین په اړین څه  نه وایی .

ددی مقالی اصلی نسخه  په  ال عربیا(Al Arabia) کی په نشر رسیدلی دی .

-------------------------------------------   **په سلامونه**